# پښتو ازاد نظم ته د پروفېسر محمد نواز طائر بخښني
# Professor Nawaz Tair's contributions to Pashto free verses

Farzana Ghani

**Abstract**

Free verse is called the form of poetry where there is no restriction of rhyme, rhythm etc. The poetry of free verse is also called natural poetry because it is near to natural phenomenon. Prof Muhammad Nawaz Tair is the father of free verse. He is well known and reputed contemporary Pashto poet of free verse. Being a prolific and versatile poet, he has written about diverse subjects in his poetry. Many of his free verse collections were published. The poetry of Prof Muhammad Nawaz Tair reflects the society and using such words in his poetry in order to explain them for common readers understanding. No one can deny the importance and highness of his free verse poetry. The versatility of his poetry make his work more attractive and expressive. He was a fames mystic poet. In short we can say that Prof Muhammad Nawaz Tair is the most matured free verse in this paper it has been tried to narrate the contributions of Prof Nawaz Tair in promotion and support of free verse.

ازاد نظم د انګرېزي ادب نه راغلے صنف دے ـ ازاد نظم هغې نظم ته وئیلے شي چې د ردیف،قافیې د پابندۍ نه ازاد وي په ازاد نظمونو کښې د بحر موجودګي لازمي وي ـ ولې د مضمون یا د خیال د اوږدوالي سره سره هغه هم اوږدېږي ـ ځکه چې هره مصرعه ئې ځانله یو پوره خیال یا فکر بیانوي ـ ځکه نو مصرعې ئې وړې او اوږدې راځي ـ د شاعر په زړۀ کښې چې کوم او څۀ رنګ خیالات راشي او هغه خیالات بیا په څۀ وخت کښې راولړزیدل نو هغه ئې بغېر د څۀ ویرې ترهې د هغې اظهار کوي ـ ځکه نو ازاد نظم ورته وئیلے شي ـ چې نۀ قافیه نۀ ردیف او نۀ بل څۀ لري ـ

په عامه اصطلاح کښې وزن د شعر د پاره ضروري ګڼلے شي ـ ددې مطابق هر موزون کلام او منظوم کلام ته شعر وئیلے شي ـ خو ولې د محققینو او معلمینو د رائې مطابق وزن

د شعر اصلي عنصر يا جوهر نۀ دے ۔ په دې چې د شعر دپاره کوم لوازمات ضروري ګڼلے شي د وزن، رديف، قافيې نه بغېر هم کېدے شي ۔

يو انګرېز ليکوال ايس پيټر رچرډ سن خو بن د ازاد نظم تعريف او پېژندګلو څۀ داسې کوي ۔

> Free verse is an open form of poetry it does not use consistent meter patterns, rhyme or any other musical pattern. It thus tends to follow the rhythm of natural speech.[1]

د انسائيکلو پيډيابرټانيکا د تعريف مطابق:

> Free verse usually, but not always discard rhyme and cannot be systematized on any regular pattern of meter. Its major rhythms are paragraphic and its minor rhythms are those in greater on less consistency of speech in phrase or sentence. It is also known as free rhythm prose-poetry, or in French literature verslibre and poem on prose.[2]

ډاکټر سلمٰی شاهين د ازاد نظم باره کښې په خپل کتاب Modern Poem (Nazam) in Pashto کښې ليکي:

> This verse appeared after Blank verse. It has no restriction of rhyme, meter and all its lines are not of the same length. Some lines are long and some are short but it is necessary that all the lines must have harmony and matter.[3]

د اردو ژبې مشهور ليکوال ډاکټر حنيف کېفي د ازاد نظم د هيئت باره کښې خپله رائې پيش کوي ۔

> اُن تمام لفظوں کو Versliber یا فری ورس کہا جاتا ہے۔ جن میں شعراء قدیم عروضی اصولوں سے انحراف کرکے اپنی پسند اور ضرورت کے مطابق نئی وضع احتیار کرتے ہیں ۔ انگریزی میں versliber یا اس کے لفظی ترجمے Free Verse کا اطلاق نظم کی اُس قسم پر کیا جاتا ہے جس کی تشکیل عروضی کے قدیم اصولوں کونظر انداز کرتے ہوئے اسے غیر مصرعوں سے کی جاتی ہے جن میں یا تو مختلف اوزان کا امتزاج پایا جاتاہے اور یہ مصرع عموماً بے قافیہ ہوتے ہیں ۔ [4]

مسعود حسن رضوي رر همارى شاعرى،، نه يوه حصه وړاندې کوم

> ,, *نظم کی پابندی سے بھاگنے والے شاعر اپنی ازادی اور جدت پسندی کو قافیے او رردیف کے ترک تک کیوں محدود رکھتے اور آگے بڑھ کر وزن کے التزام سے بھی گریز کرنے لگے اور ازاد نظم کے نام سے عجیب و غریب چیزیں پیش کرنے لگے جو ازاد تو ضرور ہیں مگر نظم ہرگز نہیں ہیں،،* [5]

ډاکټر شېر زمان سيماب د ازاد نظم باره کښې خپله تبصره وړاندې کوي ـ

رر ازاد نظم د جذباتو او احساساتو هم دغه رنګ اظهار دے څنګه چې د ادب په نورو اصنافو کښې کېږي ـ ازاد نظم ليکل اسان نهٔ دي ـ په څرګنده توګه که په دې کښې څهٔ فن نهٔ ښکاري خو کومه فن کاري چې د ازاد نظم په روح کښې موجوده ده هغې ته رسېدل د فن د باريکو ليک لار د زړهٔ چاؤدون يو مزل دے ـ الفاظو کښې اهنګ پيدا کول د مصرعو تړون او ربط رازېږول د خپل دا خليت او خارجيت امتزاج له څنه سترګه کول منظم خيال په بې وزنه ولې هم اهنګه مصرعو کښې په تسلسل سره بوتلل او لوستونکو يا اورېدونکو ته خپل مقصد او مدعا بيانول فن کاري نهٔ وي نوڅهٔ وي ،،[6]

د نظم دپاره وزن بهر او قافيه ضروري ده او که نا؟ ددې سوال په جواب کښې ګڼ ناقدين او معلمين خپله رائې لري د ''فضليات'' مطابق د ازاد نظم تعريف څهٔ په داسې ډول کېږي ـ

رر ازاد نظم د ترقي پسند تحريک په وجه زمونږ ادب ته رانوتے دے چې نن د جديد ادب نمائندګي کوي دا په اصل کښې د انګرېزانو اېجاد دے ـ چې نن ئې مونږ نقل کوؤ دا نظم د قافيې رديف د پابندي نه ازاد وي په دې کښې بحر خو وي ولې د مضمون يا د خيال د لنډوالي او اوږدوالي سره هغه هم غزېږي او راټولېږي ځکه چې هره مصرعه ئې پوره خيال بيانوي ـ ځکه ئې مصرعې وړې او لوے راځي کله کله خو ئې په مصرعو د نثر د جملو شک کېږي ـ ترنم په کښې د توقيف خيال په مدد پيدا کولے شي ـ ګني نور څهٔ صوتي ترنم نهٔ لري ـ،،[7]

مشتاق مجروح يوسفزے د ازاد نظم تعريف څهٔ داسې کوي ـ

ررازاد نظم محض يو شعري هېئت دے او د نظم دپاره پکارولے شي ـ دا هم د انګريزي ادب نه اخستے شوے دے او دومره مشهور شوے دے چې نن سبا پابند نظمونه ډېر کم ليکلے شي ـ د معرىٰ نظم مصرعې يو هومره يعني هم وزن وي خو په ازاد نظم کښې د مصرعو برابر ساتل ضروري نهٔ وي ازاد نظم بحرلري ولې د شاعر په خوښه وي ـ کله کله وړه مصرعه ليکي او کله لويه البته يو محسوس اهنګ پيش کوي ـ څنګه چې معرىٰ نظم کښې قافيه نهٔ وي دغه رنګ ازاد نظم هم قافيه نهٔ لري ـ فرق ئې په خپلو کښې دا دے ـ چې د ازاد نظم په مصرعو اوږدولو او لنډولو کښې شاعر ته اختيار دے او د معرٰی نظم ټولې مصرعې هم وزن ساتل ضروري دي ،،[8]

د ډاکټر زبیر حسرت مطابق:

ررازاد نظم هغه نظم وي چې مصرعي ئې لنډې اوږدې وي او د قافيي او ردیف د قېده ازادي وي خو موضوع ئې مسلسل وي او يو خاص ردهم ، وزن، او اهنګ لري ـ تش د لنډو اوږدو مصرعو نوم نۀ دے ـ دا ډېر رياضت او مشق سخن غواړي ـ چې د لنډو او اوږدو مصرعو باوجود ئې په ردهم او اهنګ کښې فرق رانۀ شي او وزن ئې مات يا خراب نۀ شي ـ دې قسمه نظمونو د پاره ښاغليو ايوب صابر، هاشم بابر، محمد نوازطائر ، پيغلې سلمٰی شاهين ، نسيم اڅکزئ، عنايت الله ضياء، پيغلې حسينه ګل او افضل شوق نظمونه په مثال کښې پيش کېدے شي [9]،،

داورخان داود د ازاد نظم باره کښې خپله رائے پيش کوي ـ

رر عام خلق عموماً وزن د شعر د پاره ضروري ګڼي دوي هر موزون او منظوم کلام ته شعروائي ـ خو لکه چې اووئيلے شول د محققينو او معلمينو رائے ددوي نه مختلفه ده ـ د دوي په نزد وزن د شعر اصلي عنصر يا جوهرنۀ دے ـ دې لړ کښې که مونږ د مغربي او مشرقي مفکرينو د شعر تعريف وځيرو نو مونږ ته به دا حقيقت په خپله څرګند شي چې د شعر د پاره چې کوم لوازمات ضروري ګڼلي شوي دي د وزن ، رديف قافيې نه بغېر هم هغه په ځاے ساتلے کېدے شي .،،[10]

طائر صېب دا نظم چې عنوان ئې مور دے ـ د مور په لا زواله مينه ښۀ پوهېږي او لوستونکو ته د مور د ابدي مينې پيغام ورکوي ـ
د نظم نوم "د مور مينه" ده۔

اے د مينې طلبګاره
په هرلوري
دا نغمه راپېدا وا يه له کومے
چې د ستورو د رڼرا نه هم ښائسته ده
او د ګلونو د خندا نه هم ـ ـ ـ
خوږه ده
که پوهېږے
دا نغمه د محبت ده
چې د زړۀ له نغمه زاره پورته کېږي
چې ګلونه د سپرلي ورنه شرمېږي
دا د زړۀ مينه د هسې ګلعزار ده

ښکلي ستوري ----
چې ځلېږي په اسمان کښې
د سپرلي نرۍ وږمه
شام پروره
له دے واړووي خوږے
د یار خبرے
ځار شم ځار شم
د صنم شیرین ګفتاره
لا ددې نه هم خوږه ښکلې نغمه شته
که خبرئې
یا دوي دا اوریدلے
د دنیا د زړۀ اواز سحر انګېز
د مور مینه
چې بدل نۀ ئې مثال شته[11]

پروفېسر محمد نواز طائر صېب چې په کوم وخت کښې د اسلامیه کالج طالبعلم وۀ نو د طالب علمۍ د وخت نه هغه د پښتو ژبې سره ډېره مینه لرله ـ د اسلامیه کالج د خېبر میګزین مدیر او د بزم ادب غړے وۀ ـ هم په دغه وخت کښې طائر صېب جدیده افسانه او جدید نظمونه لیکل ـ چې د ازادو نظمونو ئې درې مجموعې شائع شوې دي ـ

پرواز د طائر صېب د ازادو نظمونو یوه منفرده مجموعه او نمونه ده چې په فني لحاظ سره د ازاد نظم په کړو وړو پوره ده ـ

د شعور ډالۍ د طائر صېب د خالصو ازادو نظمونو مجموعه ده چې ټول نظمونه یې په فني او فکري لحاظ سره ژور مقصدونه لري ـ ددې مجموعې یو یو نظم ډېره ژوره فلسفه لري ـ

د طائر صېب په ازادو نظمونو باندې د بحث کولو نه مخکښې به زۀ د طائر صېب په ازادو نظمونو د هغوي خپل تاثرات وړاندې کړم ـ لکه څنګه چې ازاد نظم د انګرېزي نه اردو ته او اردو نه پښتو ته راغلے دے ـ د برې پښتونخوا ډېر عالمان داسې دي چې ازاد نظم ته ئې د یو سبک نوم ورکړےدے ـ او دا سبک د ''ښامار سبک'' په نوم یادېږي ـ ځکه چې دا ئې خپل نظم خان ځاني ښامار کښې متعارف کړے دے او ددې په حقله طائر صېب لیکي :-

> ''د افغانستان ناقدین دې ته اوس د ښامار سبک وائي او ددې په تقلید کښې د جدیدې شاعرۍ یو نوي مکتب ته لاره خلاصه شوې ده[12] ''

ازاد نظم چې کله اردو ژبې ته راغلو نو ټولو ناقدینو ددې خلاف خبرې شروع کړې او خپل دا اعتراضونه به ئې په ازاد نظم څۀ چې په هر نوي صنف کول کوم چې به د نورو ژبو

نه راتلو ـ دغه شان دا د اعتراضاتو سلسله پښتو ته هم راورسېدله او په پښتو کښې چې کله د ازاد نظم سلسله شروع شوه نو هر چا ئې خلاف اواز اوچت کړو ـ د ازاد نظم په تقليد کښې طائر صېب ليکي :-

'' د شعر دا انداز اوس بين الاقوامي دے او يوائې په مغرب کښې نۀ دے ايسار بلکې په جديد چين ، کوريا او جاپان عن دا چې د مشرق وسطٰی په ملکونو کښې دې قسم شعرونو او شاعرئ ډېر عام رواج موندلے دے۔''[13]

طائر صېب دې باره کښې د هغه اعتراضاتو مخ نيوے کوي کوم چې په ازاد نظم باندې کېدل ـ حمزه بابا هم ددغې مخالفينو په ټولي کښې وۀ ـ هغۀ هم د ازاد نظم په شروع کښې ډېر مخالفت کړے وۀ ـ طائر صېب د هغه دغې اعتراضاتو باره کښې ليکي :-

'' زۀ د ازاد نظمونو ملګرے نۀ يم او مخالفت ئې هم غوره نۀ ګڼم ځکه چې زۀ پوهېږم چې دا تکل د انساني خوښې نه پيدا کېږي څوک به دومره د قافيې او رديف سر خوږي په سر اخلي زمونږ د پښتو عروضي دور لا هم بشپړ شوے نۀ دے چې زمونږ د يورپ تتبع کښې ازاد نظمونه ليکو چې وېړيا په ګوتو راځي ـ صرف دومره ده چې په ازاد نظم کښې د بحر او لے لحاظ ساتل وي ـ نوره دې خوښه که يوه مصرعه د لسو ارکانو ليکې او بله د يو رکن هسې که مونږ سره ښۀ سپېځلي خيالات وي نو ولې ئې د نثر په صورت کښې پېش نۀ کړو[14]''

د ازاد نظم په شان زمونږ ډېر اصناف داسې دي چې کله وړمبي ځل د انګرېزئ يا بلې ژبې نه مونږ ته راغلل او پښتو متعارف کړل نو مخالفت ئې شروع شو خو د وخت سره سره بيا لوستونکو دا اومنل ـ لکه مثال په طور خاکه نګاري ، هائيکو او داسې نور د انساني تحقيق او تخليق کله هم مکمل نۀ دے ـ انسان تل د تکميل په لور روان وي او دا ځکه چې هر نوے څيز د زوړ مقابله کښې ښۀ وي ـ لکه څنګه چې نوې جامې او نوے پېزار په هر چا پورې ښۀ ښکاري دغه شان زلمي په بوډاګانو پسې ښۀ ښکاري ـ نو ددې مطلب دا نۀ دے چې ګني قديم د قدرت نه انکار کوؤ ـ خو دا هم واضحه ده چې هر جديد سبک د قديم سبک ترقي يافته شکل دے او دا سلسله به هم دغه شان روانه وي ـ
د ازاد نظم د مرسيتالي ډلي غټ مبلغ ايوب صابر وۀ او د مخالفينو مشر ستر شاعر امير حمزه خان شينواري وۀ ـ د ازاد نظم تسلسل نوې ګونه جوړه کړه ـ ازاد نظم هم د هغې احساس مظهر دے ـ

شاعري که ازاد نظم وي دې دپاره يو ښۀ غوره او د کار صنف دے ـ چې اوس د قديمو نظمونو برعکس ټول زور په موضوع ورکوي او د هيئت پابندي په کښې نۀ وي ـ صرف وزن په کښې ضروري ګڼلے شي چې د نظم او نثر تر مينځه فرق اوساتلے شي ـ طائر صېب د ازاد نظم جدت نوے والے او سادګي ډېره خوښوي اوليکي :-

''قافيه د يو وسيع مضمون د راغونډولو دپاره پوره ډېره لويه مجبوري ده ـ خو ازاد نظم د مضمون د خورولو دپاره يو ډېره لويه اساني ده ـ په دې وجه زۀ ددې په حق کښې نۀ يم چې ګني ازاد نظم د تن اساني پېداوار دے ـ بلکې دا په نظم ليکلو او په خپلو خيالاتو ځرګندولو کښې يو ډېر لوئے جدت دے او يوه ډېره لويه اساني پيدا کوي ـ زما په خيال ازاد نظم د مقفٰی نظم ليکلو نه زيات ګران کار دے په شرط ددې چې هغه سهي نظم وي[15]''

طائر صېب نۀ يوائې د ازاد نظم په حق کښې دے بلکې د نظم په مېدان کښې ئې ډېرې ښکلې تجربې هم کړې دي ـ په دغه تجربو کښې تر ډېره حده کامياب هم دے ـ او د پښتو د ازاد نظمونو د ليکوالانو په صف کښې لوړ مقام لري ـ ډاکټر سلمٰی شاهين دې باره کښې ليکي :-

'' پروفېسر محمد نوازطائر د پښتو د ازاد نظم وئيونکو د ډيرو ښو شاعرانو په صف کښې ځاے مومي ددوي تربيت هم د اسلاميه کالج په علمي او ادبي ماحول کښې شوے دے ـ د دوي د ازاد او معرٰی نظمونو درې واړه مجموعي د دوي په ازاد نظم د سترس لرلو دلالت ورکوي ـ او دا ترې په ښۀ شان ځرګندېږي چې پښتو جديد نظم د مغربي هيئت ازاد نظم په سانچه د خپل فکر او خيالونو جذباتو احساساتو اظهار د پاره په کار راولي ددوي ګڼ شاهکار نظمونه د ملک د تاريخ ، جغرافيي د علم او پوهي په سبب ډېر مقصدي او سنجيده تمثيلي دے انداز، ډرامائي کرېکټر ډېر مقصدي او سنجيده نظمونه دي [16]''

مخکښې ليکي:

'' حاجي ګل ، اشاري، قاتل، بتان ، تصويرونه، که د زلمو نه پوره نۀ شوه، نوګزي ډېرى ، زيړګل او نور ډېر تاريخي ثقافتي موضوعات چې د ازاد نظمونو په تجربي کولو کښې په فن د محمد نواز طائر صېب ګرفت ډېر مضبوط ساتي او د فن د لازواله کمال مثانونه لري[17]''

طائر صېب د ازاد نظمونو يوه جامعه مجموعه د شعور ډالۍ چې ۱۹۸۱ء کښې شائع شوي ده ددې نه وړاندې دومره ډېر په ګڼ شمېر چا ازاد نظمونه نۀ دي شائع کړي او بل دا چې دا نظمونه ګڼ موضوعات او تاريخي پس منظر لري ـ

دا نظم چې سرخط ئې پرواز دے ښاغلي پروفېسر محمد نواز طائر صېب ليکلے دے ـ دا په وړمبي ځل ۱۹۶۲ء کښې پښتو مجله کښې چاپ شوے دے ـ ددې نظم ژبه اسانه ، روانه او عام فهمه ده ـ د نظم خورې ورې برخې دي ـ په ذهن کښې دغې له ترتيب او نتيجه ترې اخذ کول لږه غوندې خواري غواړي ـ ددې نظم د مصنف په افاقي نظري او فلسفيانه انداز پوهېدل ډېر فکر او ژور نظر غواړي ـ د طائر صېب فکر د تعميري فلسفې د پرواز نيولو جوګه خو زۀ هم نۀ يم خو دلته طائر صېب په دې نظم د يو څو خبرو هڅه کړم ـ

پرواز نظم طائر صېب په اشعارو کښې د دنيا خلقو ته په پوره ژوند کښې د پېښېدونکو واقعاتو عمل او حرکت ، انسانيت ، حميت ، محبت او ورورولي پېغام دے ـ په دې مسلسل نظم کښې په زړۀ پورې واقعات لوستو سره تعلق لري ـ خو دا نظم دومره اثر انګېزه دے چې په دې کښې بيان شوي مناظر د لوستونکو د نظر د وړاندې راځي ـ نو ددې نظم ښکلي ښکلي تشبيهات د شعر په معنٰی او مقصد کښې بې کچه ښکلا پيداکوي ـ د طوفان دا يو منظر وړاندې کوم چې ددې تشبيهاتو اندازه تاسو اولګوئ ـ

وريځې رو رو ګورېدلې
اسمان پرې مخ پټوؤ
طوفان په اونو ماتولو باندې
لاس پورې کړو
شغا چړقا
الخ ــــــ [18]

پروفېسر نواز طائر خالصه د ازاد نظمونو مجموعه د شعور ډالۍ ده ـ دا مجموعه په کال ۱۹۸۱ء کښې شائع شوې ده چې ټول ټال ۵۱ نظمونه په کښې شامل دي ـ خو دا نظمونه ډېر مقصدي او منفرد مضمونونه لري ـ ددې مجموعې ژباړه کښې طائر صېب د ۱۹۵۲ء راسې نظمونه ليکل ـ دا د طائرصېب مجموعه چې د څۀ کم ۳۰ کالو زيار دے ـ چې په مجموعه توګه ستائيلے شوے دے ـ ددې مجموعې باره کښې سلمٰی شاهين ليکي :-

''د طائر کلام د قافيې او رديف پابند هم دے او لکه ''د شعور ډالۍ '' غوندې د ازادۍ شاعرۍ خوند وره نمائندګي هم کوي ـ دا ژوندۍ او متحرکه هم ده او د ياس و حسرت او بې مائيګي ګورستاني تصورات هم لري[19] ''

ډاکټرشېر زمان سيماب صېب چې يو تنقيدي او ژور فلسفيانه نظر لري ـ ددې مجموعې دوه شاهکار نظمونه ''تش کاغذ'' او سجده'' باره کښې خپل تاثر داسې وړاندې کوي ـ

'' تش کاغذ ، او سجده نومې نظمونه د پښتو د ازاد نظم سپېڅلي نمونې دي ددغه نظمونو مختصر عنوانات د ډېر ژورو مضامينو او وسيع فکرونو پس منظر لري ـ ولې د طائر صېب د فن ګرفت دغه ژورو نه خپل مقصديت ګوهر په ډېر احتصار سره را اوباسي او په يوه څو چستو مصرعو کښې چې د اهنګ نزاکت ئې د زخمي کېدو نه بچ کېږي او فکري تسلسل ئې خپل کلائمکس ته په داسې لمحه رسي چې د لوستونکي تنده هم سړوي او د طائر صېب د مقصديت د ګلشنونو خوندونه هم اخلي[20] ''

په ''تش کاغذ'' کښې ليکوال يوه داسې نقشه نيولې ده چې خپل محبوب ته خط ليکي او هغه ته د خپل زړهٔ کېفيت په تش کاغذ بيانوي ـ چې خپل محبوب ته په خط ليکلو هغه ته کومه خوشحالي تر لاسه کېږي ـ هغه د زړهٔ وېخ ته کوزه شي چې ورسره د سترګو نه اوښکې راوبهېږي او په کاغذ پرېوځي ـ او دغه تش کاغذ هغه خپل محبوب ته په دې طمع لېږي چې ګني هغه به په دې پوهه شي چې دا دوه اوښکې زما محبوب ته د محبت اظهار دے او د محبت د اظهار يو لطيف او خفيف انداز دے ـ او محبوب ته ددې دوؤ اوښکو نه سېوا بله لار نۀ ښکارېده ـ خو په اخر کښې هم دغه وائي چې د محبت د جذبو نه عاري محبوب به ددې تش کاغذ په راز څنګه پوهه شي ـ

تش کاغذ<br>
تاته مې خط ليکلو<br>
لامې ليکلے نه ؤ<br>
چې په کاغذ د پاسه<br>
دوه ملغرې<br>
د دوؤ سترګو نه راپريوتلے<br>
ماوے بس دغه بس دے<br>
ستا دغه خط مې تاته دغه شان درواستولو<br>
ورروستومې سوچ کولو<br>
چې ته به څنګه<br>
ددې تش کاغذ په راز پوهه شې[21]

په ''سجده'' نظم کښې طائر صېب د سجدې د ابدي خوږو ذکر څۀ داسې کوي چې د محبوب د در په خاوره د سر کښېښودو نه حاصلېږي ـ د محبوب د در په خاوره چې تندے

اولګوي او کوم حرارت او اطمينان ورته رسي داسې ابدي وي لکه چې د محبوب وصال ئې اوشي ـ که دغه حرارت ئې زړۀ ته رسي نو دا سجده به تش د خاورو سلام وي ـ سجده به نۀ وي ـ

سجده
سجده هغه ده
چې ژوندون له حرارت ورکوي
سجده هغه ده
چې دمينې په درشل اولګي
د زړۀ سکون سره د مينې دسرور تمنا
چې راولاړه شي سجده شي
نو سجده هغه وي
دا څۀ سجده وي چې معشوق د زړۀ په کور کښې نۀ وي
تندے لګياوي
تش د خاورې سلامونه کوي
د زړۀ حرم چې شي روښانه د اشنا په مينه
سجده سجده شي هم سکون هم خوشحالي ئې کله شي
دغه سجده ورکوي روح له ديرواز وزرے
دغه سجده راونيولې شي او دۀ بختونه [22]

لنډه دا چې طائر صېب د پښتو ادب جولۍ نۀ صرف د ازاد نظم قيمتي ملغلرو نه ډکه کړې ده بلکې ښائست ئې ورله يو په دوه نور هم سېوا کړے دے ـ دغه ازاد نظم چې څوک ئې قبلولو ته تيار نۀ وو ښاغلي په کښې هغه تجربې اوکړې چې لوستونکي پرې نۀ صرف خپله تنده سړه وي بلکې خوند، مزه او سبق ترې هم ترلاسه کوي

# حوالې

[۱] Abbas peter Richard son, John the forms of poetry. Page 137

[۲] انسائيکلو پيډيا برټانيکا جلد نمبر ۹ ايډيشن ۲۰۰۰ء ص ۷۴۵

[۳] Shaheen, Salma., Modern poem (Nazam) in Pashto Jadoon printing press, Khyber bazaar Peshawar 2005

[٤] کيفي، ډاکټر حنيف، اردو ميں ازادمعرى'نظميں، مجلس ترقي ادب ۲ کلب روډ لاهور ۱۹٦٦ء ص ۷۰

[۵] اياز ،محمود، په پښتو نظم کښې شيرينې نغمې لټوم، جرس پښتو جلد۳۷ احمد پرټنګ پرېس ناظم اباد نمبر ۲ کراچي ۲۰۰۱ء ص ۳۰۳

[۶] سيماب ،ډاکټر شير زمان، زما د شوق لېونتوب، عامر پرنټ اينډ پبليشرز ۲۰۱۵ء ص ۵۶،۵۷

[۷] خټک ،فضل مير، فضليات، د چاپ ځاے نۀ لري ۱۹۹۹ء ص ۴۳۵

[۸] يوسفزے ،مشتاق مجروح، زرکاڼے بديع بيان او ادبي صنفونه، يونيورسټي بُک اېجنسي خېبر بازار پېښور ۲۰۱۰ء ص ۱۴۷

[۹] حسرت ،محمد زبير، قديم او جديد نظمونه صنفوته او هيئتونه، پښتو جرس جلد ۳۷ احمد پرنټنګ پرېس ناظم اباد نمبر ۲ کراچي ۲۰۰۱ء ص ۵۹

[۱۰] داود ،داور خان، څېړنه او کره کتنه، ملت پرنټرز لاهور ۲۰۰۳ء ص ۱۱، ۱۲

[۱۱] طائر ،پروفېسر محمد نواز، د شعور ډالی، جدون پرنټنګ پرېس پېښور ۱۹۸۱ء ص ۱۱۹

[۱۲] طائر ،پروفېسر محمد نواز ''خان ځاني ښامار'' پښتو مجله ازاد نظم يوه تجزيه، ۱۹۸۰ء، ص ۱۲

[۱۳] طائر، پروفېسر محمد نواز، پښتو مجله د ازاد نظم يوه تجزيه، پښتو اکېډيمي پېښور، ۱۹۸۰ء، ص ۴، ۵

[۱۴] طائر ،پروفېسر محمد نواز، په پښتو ادب کښې نوي رجحانات، پښتو مجله رېډيو ادبي جرګه، ص ۱۹

[۱۵] همدغه، ص ۱۸، ۱۹

[۱۶] شاهين ،ډاکټر سلمٰی '' جديد نظم په پښتو کښې، ۲۰۱۲ء، ص ۳۹۳

[۱۷] همدغه، ص ۳۹۳

[۱۸] طائر ،پروفېسر محمد نواز، پرواز، ، جولائي ۱۹۸۱ء، مخونه ۳۹ تا ۴۳

[۱۹] طائر،پروفېسر محمد نواز، د شعور ډالی ،۱۹۸۱ء، ص ۱۷

[۲۰] سيماب ،ډاکټر شېر زمان، پروفېسر محمد نواز طائريوه مطالعه، عامر پرنټر اينډ پبلشرز پېښور، اګست ۲۰۱۶ء، ص ۸۲

[۲۱] طائر ،پروفېسر محمد نواز، د شعور ډالی، ص ۳۸

[۲۲] همدغه ص ۳۵